# د باچا خان نظریه او سیاست

# د غني خان او اجمل خټک بابا په افکارو کښې

پروفېسر ډاکټر عرفان خټک

د برصغیر پاک و هند په تاریخ کښې د حضرت باچا خان شخصیت لکه د نایابه سوچه لعلونو په شان ځلېږي او پړقېږي. باچا خان د پښتون قام یو داسې نابغه او جینئس شخصیت دے چې کلهمه نړۍ کښې به داسې اتل داسې د ویاړ قابل پښتون او داسې قام پرست او بې لوثه قامي خدمتګار بل په صدیو کښې هم چرته پېدا نۀ شي. د لر او بر د پښتون قام دا ننګیالے، توریالے او غېرتي مشر چې د مهد نه تر لحده پورې د پښتون قام د ازادۍ، ابادۍ، ښېرازۍ او سوکالۍ دپاره لېوالـۀ او د خپلې دغې نېکې جذبې او پښتني مرام دپاره چې ئې د وخت د هر جابر او ظالم مقابله په ډېره نره او په ډېره مړانه کړې ده. په تش لاس د انګرېز سامراج غوندې قوي، طاقتور، وحشي او ظالم سره د خپل خوار اولس د مرستې او زور په جذبه همېش جنګېدلے دے، د قام او اولس د ښې ورځې دپاره ئې ډېرې تودې سړې زغملې دي او تر اخري سلګۍ ئې د پښتون قام د روڼ مستقبل د سور سحر د خپلواکۍ او د خپلې خاورې خپل اختیار دپاره کفن په سر د غېرت او همت توره تر ملا انګرېزي سامراج ته لکه د فولادي دېوال ولاړ ؤ، وخت کۀ په دوي هر څومره ناشونې کړې دي، هر څومره د جبر و استبداد د ظلم وستم ګولۍ ئې پرې ورولې دي خو د خپل قام په مینه مست دا ننګیالے پښتون ئې نۀ د خپلې لارې اړولے دے او نۀ دے د دوي د دهنِ مقدس نه د انقلاب ووتي نعره غلې کړې ده. کۀ ظالمانو ورته په خُلۀ د اور برغولے ایښے او کۀ ژبه ئې ورته غوڅه کړې ده خو د فخر افغان باچا خان د یو قدم یو اواز، انقلاب انقلاب نغمه ئې بیا هم سړه کړې نۀ ده.

کۀ ظالم مې ژبه غوڅه کړه تېره شوه
توری څومره چې تېره شوه لا خوږه شوه
کۀ اوس نر وي نو غوږونه دې خپل پرې کړي
چې زما نغمه سړه نۀ شوله سره شوه(۱)

د باچا خان مشن دا ؤ چې اول خو خپل قام له خپله خاوره ازاده کړي بیا ئې په دې خپله پاکه پښتنه خاوره د خپل اختیار خاوندان کړي، په خپل کور ئې پوره کړي، د غریبۍ تورې لړې د وطن د مخ نه لرې کړي او د بااختیاره پښتون د پت غېرت انګڼ ته د خپل مرام په سره ډولۍ کښې د پښتون قام او اولس د خوشحالیو، سوکالیو او سیالیو ناوې راولي او دغسې د قام د غاړې نه د غلامۍ طوق همېشه همېشه دپاره لرې کړي او د غلامۍ د ذلت نه ډک ژوند د ازادۍ په غوره ژوند بدل کړي. د محرومیو، مایوسیو او بې وزلیو تورې تیارې د

خوشحالي په روڼ سباوون بدلې کړي، دغه هغه عظيم مرام او مقصد ؤ چې په شا ئې باچا خان ته د پښتون قام، کور، کلے او خاوره باغ عدن ښکاريدو.

کۀ خازې شنې مې په قبر وي ولاړې
کۀ غلام مړ يم راځئ توکئ پرې لاړې
يا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم
يا به کړم د پښتون کوڅې ويجاړې (۲)

د باچا خان د سياست يو اعلي او ارفع مقصد لُوځ لغړ پښتون ته د قدر او عزت ژوند ګټل وو، هغوي همېش دپاره د خپل ذات او د غرض خبره قطعاً نۀ ده کړې، هغۀ کۀ په دار چغه وهلې ده کۀ د ګولو په باران کښې ئې نعره وهلې ده او کۀ د وخت د ظالم نظام خلاف ئې د بغاوت اور ته پُوکے ورکړے دے، دغه هر څۀ ئې د خپل سرتوره، وږي تږي، خړ پړ پښتون، د ښې ورځې دپاره کړي دي. کۀ چرې دغې ملي اتل، قهرمان، فخر افغان د خپل ذات او خپلو مفاداتو دپاره سياست کولو نو هغۀ ته خو د قام د خرڅون په عوض کښې هر څۀ ملاويدل خو نۀ د باچا خان غېرت او پښتونولي د خپل ذات قرباني او د خپلو خواهشاتو قرباني خو قبلولې شوه خو خپل لوځ لغړ خړ پړ پښتون ئې د ظالم سامراج په لاسو خرڅول هيڅکله نۀ شو زغملے. هغۀ د خپل خوار پښتون خيرن سر نه د نړۍ د بادشاهانو تاجونه ځارول او د هغۀ د خوارۍ، همت، جدوجهد او مړانې په هلو ځلو کښې څڅېدلې خوله ئې د مُشک و عنبر او عطرو سره نۀ برابروله.

په سرتور سر بربنډ لغړ پښتونه!
اوږيه، تږيه، خړپړ پښتونه!
ستا د خيرن سره تاجونه ځار شه
ستا د خولو ځنې عطرونه ځار شه (۳)

دا خبره د حضرت باچا خان د سيرت نه ثابته ده، د هغۀ د کردار او زيار نه ښکاره ده او د هغوي د انقلابي نعرې نه ښکاره ده چې دوي خپل ژوند د پښتون قام د سوکاله او خپلواکه سباوون او روښانه او شادانه مستقبل په لار کښې خاورې ايرې کول د بقاء او جاوداني راز ګڼلو او هم دغه جوش جذبه او ولوله وه چې د دوي خوبونه ئې حرام کړي وو، د دوي قرار ئې ورک کړے ؤ او د دوي اضطرابي کېفيت ئې لا سېوا کړے او زيات کړے ؤ. هغۀ به شپه ورځ د خپل پښتون قام غمونه ژړل، هغه د يو داسې ادراک خاوند ؤ چې د خپل خوار اولس په چپه خُلۀ هم پوهېدو، د هغۀ تېز احساس او بصيرت هغه څۀ محسوس کړي وو څۀ چې د دۀ قوم د وخت د سامراج له ويرې په جار هم نۀ شو وئيلے. د خپل قام هغه قيصه د مجبورو، د محرومو، د بې وسو قيصه چې د سامراجي قوت د ظلم او جبر له ويرې چا بيانولې نۀ شوه، باچا خان په جار د خپل انقلابي جلال سره نړۍ ته وړاندې کړه او خپلې سترګې ئې د خپل پښتون قام د سترګو روښانولو دپاره خاورې کړې او د دوي د دړد قيصه ئې د خپل غېرت او ننګ په زور د زمانې تر فلکه رسولې ده او د جبر او ظالم سامراجي غوږونه ئې د خپل قام د درد او الم په قيصه بنګولي دي.

تا کړې خپلې سترګې خاورې
چې زما شي پرې روښانه
تا قيصه زما د دړد
بره يوړه تر اسمانه (۴)

باچا خان د خپل پښتون قام د جلال او جمال، د غيرت او جرات نه خبر ؤ، هغهٔ خپلې متې د خپل پښتون په زور زوروري ګڼلې.

ستا ګولۍ دي پېرنګـه! زمونږه سينې
زمونږ زور بـه يـو ورځ ووينې
دا سـتا حـال بـه زوال شـي زوال
در بـه کړو د غيرت د جرات نمونې (۵)

فخر افغان باچا خان د پښتون قام بده ورځ نهٔ شوه لېدے، هغهٔ نهٔ يـواځې خپل قام پـه نړۍ د تسليمولو جنګ کولو بلکې هغه د پښتون دپاره د خپلې خاورې او د خپل واک اختيار ترلاسه کولو دپاره هم د حقوقو په جنګ اخته ؤ او تر خپلې اخري سلګۍ ئې خپل دغه مشن جاري وساتلو، کهٔ اغيار او سامراجي قوتونو هر رنګه کوششونه وکړل، هره حربه ئې استعمال کړه خو دغې کفن په سر پښتون فخر افغان ته ئې ماتې ور نهٔ کړه، زمونږ د اې اين پي په پښتونخوا د حکومت دغه تاريخي دوره چې د پښتون قام د سوکالۍ سبب دے د حضرت باچا خان د هغوي د نظرياتي او اصولي ملګرو، د هغو سختيو، د جبر و تشدد او بې مثاله قربانيو ثمر دے، خو پښتون کُش او د پښتون قام غليمان لګيا دي د فخر افغان باچا خان د مرام غيرتي سپايانو، کارکنانو او ورکرانو پسې لکه د سپورې ګرځي او د پښتنو د بقاء او ارتقاء هغه فلسفه او نظريه چې د باچا خان نه خدائے بخښلي رهبر تحريک ملي رهبر او مشر خان عبدالولي خان او د انقلابي او سياسي شعور د علوي ادراک فهيم او سياسي بابا اجمل خټک ته ميراث کښې پاتې ده او اوس هم دغه هر څهٔ د ملي مشر او رهبر خان عبدالولي خان زوي او د باچا خان نمسي اسفنديار ولي خان ته سپارلے شوي دي، د پښتنو دښمنان ئې خدائے مهٔ کړه نيست و نابود کول غواړي، ځکه چې مونږ ته خو هره لحظه او هره لمحه د باچا خان فکر دا درس راکړے چې:

چې نشه د استبداد لري په سر کښې
ماته يو دے کهٔ مغل دے کهٔ افغان
چې زما د کور ازغي ته کاږهٔ ګوري
وبه او رشوے د هغهٔ په ګلستان (۶)

د ژوندو قامونو د ژوند د کاميابۍ راز هم دا دے چې هغوي خپل اتلان، مشران او رهبران نهٔ هېروي، د هغوي کارنامې، د هغوي قربانۍ او جدوجهد نهٔ يواځې يادوي بلکې د هغوي په ښودلې شوې لاره په ډېره بې نيازۍ او لاپرواهۍ سره يون هم کوي، راځئ چې مونږ هم نن دا لوظ او قول وکړو چې مونږ به د فخر افغان باچا خان په نظريه، سياست او قربانيو تل وياړو او د هغوي په ښودلې شوې لاره به د خپلې خاورې او خپل قام او اولس خدمت ته هر وخت تيار اوسو.

رسېدل کهٔ غواړې څوک د پت معراج ته
ژوندون تېر دې په ګفتار د باچا خان کړي
زمانې ورکوي ځائے د زړهٔ په کور کښې
کوم اولس چې خپله لار د باچا خان کړي (۷)

## حوالې

۱،۳،۶ د اجمل خټک د غيرت چغه ص ۱۶۷-۲۲۹- د چاپ کال ۱۹۵۸.

۲،۴،۵ د غني خان کليات

۷ د عرفان خټک سرې غوټۍ ص ۱۱۸ عنوان "د پت معراج" د چاپ کال ۲۰۰۸ء.